سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۱۲/۲۲

# منظور پشتین ته

**منظوره! رنځور مه شې، غلامۍ سره دې جنګ دی**

**د قام د بر بادۍ او بدنـامۍ سره دې جنګ دی**

جـګـړه دې د ښـامـار سـره پیل کړیده ښکاره

تـوده د انصاف چیـغـه دې ویستلـې ده ښکاره

جـنـده د خپلواکۍ دې پورتـه کـړیده ښکاره

**دې لار د عدالت کې، ناکامۍ سره دې جنګ دی**

**د قام د بر بادۍ او بـد نــامۍ سره دې جنګ دی**

منظوره! تـنـهـا نـه یـې لـوی واړه دې درسره

ځـوانـان در سره مـل دي او زاړه دې درسره

د ورو پرګـنـو تـر ځـنـګ مــاړه دې درسره

**دا قام چې شي لا پوخ، هرې خامۍ سره دې جنګ دی**

**منظوره! رنځور مه شې، غلامۍ سره دې جنګ دی**

منـظـوره! ویــره ګـډه ده پـه کـور د اســتبـداد

زوال سـره مـخ شوی دی نــن زور د استبداد

مــړ کیږی ایــره کـیږی ګــرم اور د اسـتبـداد

**قدم په احتیاط اخلـه، بی پامئ سره دی جنګ دی**

**چی قام دی شی لا پوخ، هرې خامئ سره دی جنګ دی**

را ټول دی کړل با ننګه پښـتانه خـواره واره

په خپل کور کی بی واکه میلمانه خواره واره

زېـلــي پـه پیرېـو بیلتــانه خـــواره واره

**عاشق یی په یو والی، ځانځانئ سره دی جنګ دی**

**د قام د بربادئ او بد نـامئ سره دی جنګ دی**

آمـو نه اباسین پورې ښادي او غم شریک دی

د ویني شراکت دی چی هرغم ماتم شریک دی

تاریخ چی راته لیکی لر او بر قلم شریک دی

**راځي چی له پنجابه، سونامئ سره دی جنګ دی**

**د قـام د تبـاهئ او غلامـئ سـره دی جنګ دی**

بــاور دربانـدی کړیـدی لـوی قـام د پښتنـو

هـرګام کی در سره دی هـر یو ګام د پښتنو

خبـر شه! هم بابا شـوی هـم امـام د پښـتنو

**دا ځکه! د خپل قام، د غلامئ سره دی جنګ دی**

**د حق مـقـابله کی، نـا کامـئ سره دی جنګ دی**

راغلی د دی وخت دی چی را یو شی لر او بـر

په حیث د انســانانو شی د خپل حق نه خـبـر

دنـیـا ورتـه هم و ګـورې پـه سترګـه د بشـر

**منظوره! اســان نه دی، ګلخانئ سره دی جنګ دی**

**رنځـورمه شی « پشتینه »، غلامئ سره دی جنګ دی**